# د اے این پي د صوبائي صدر

# امیر حیدر خان هوتي پیغام



په داسې وخت او حالاتو کښې چې مونږ او زمونږ د امن او ژوند نه ډک وطن لا وينې وينې او سلګۍ سلګۍ دے. مونږ چې کله د ستر باچاخان بابا او ستر رهبر تحريک ولي خان بابا د ياد ورځ نمانځو نو په زهنونو کښې مو په سلګونو سوالونه جوړيږي او ورانيږي.

مونږ چې د يو بيابان نه تېرېږو او يو غر ته ځان ورسوؤ نو وايو چې دغه غر دے اخوا به نه بيابان وي او نه غر. خو چې سرته ئې ورسوؤ نو نظر ته مو يو بل بيابان او بل غر راشي. مودې وشوې زمونږ د دې لارې لارو مشرانو دغسې مزلې وکړې. دغسې غرونه او بيابانونه ئې د خپو را لاندې کړل. خو نۀ غرونه ختم شول او نه بيابانونه.

شايد چې هم دې منظرونو اوس ټول پښتانه په دې پوهه کړي دي چې ژوند يو مسلسل عمل دے. کار او زيار دے. او مسلسل يوه سترې ده. او هم دا سوچ او فکر د ټولنې او اجتماعي ژوند ژواک نوم دے. هم په دې عمل د دنيا قامونه او اولسونه د ترقۍ معراج ته رسېدلي دي.

مونږ چې اوس هر کال د دې دواړو سترو لاربښودانو د ياد په ورځ راجمع کېږو نو هم د دوي کارونه هم د دوي د کار کولو توان او اوصولو او انساني رويې مخې ته راولو. او د خپلې خپلې پوهې مطابق خپل خپل خيالونه د نورو سره شريکوؤ. مونږ د دې رهبرانو خيالونو،کارونو او عملونو په عملي توګه د خپل تاريخ،خپل کلتور، خپلې خاورې،خپل وطن او خپلو خلقو او خپلو اولسونو سره وابسته کړي او وابسته ساتلي يو.

مونږ په فخر سره دعوه کوو چې د ژوند ژواک د نړۍ د صورت حال د ملک او علاقې د صورت حال او زمونږ د خپل صورت داسې هيڅ خبره او هيڅ نکته نشته چې په هغې کښې مونږ ته خپلو دغو رهبرانو په ګوته کړې نۀ ده او زمونږ راهنمائي ئې نۀ ده کړې. زمونږ لوظ دا دے چې زمونږ ژوند ژواک به تر هغې په دغو اصولو تېرېږي تر څو چې مو خپل وطن ته د ژوند ټول سپرلي حواله کړي نه وي.

مننه